ډاکټر لمر افغان ۲۰۱۱/۱۱/۱۵

# هغه افغاني فلم چې نن ما ولید

## غلطه لاره یا Wrong path

غلطه لاره د هغه افغاني هنري فلم نوم دی، چې نن  د هالنډ د زندام په ښار کې د لومړي ځل لپاره ننداریِ ته وړاندې شو. د فلم لپاره د پرانیستنې یو ډېر په زړه پورې پروګرام هم نیول شوی ؤ، خو زه یې د پروګرام په اړه دلته څه نه لیکم، مګر زما د دغه څو کرښو سکالو هغه احساس څرګندوي چې ما د دغه فلم په لېدو سره تر لاسه کړ او د هغه ماحول هغه له ذهنه پټ حالت بیانوي چې زه یې په سوچونو کې لاهو کړم.
ما ګڼشمېر افغاني فلمونه لکه غلام عشق، بربادرفته، د کونډې زوی، هجرت، پناه، اوسامه، ارمان، دهکده ها بېدار مېشود، سیا موی جلالي، تابستان داغ کابل او داسې یو شمېر نور افغاني فلمونه لیدلي ول، چې د هر فلم تر شا یو داسې ډایرکټر ناست ؤ چې پولي او تخنیکي امکانات ورته یا د افغانستان دولت او یا هم نورو موسسو تیار کړي ول، مګر ننني فلم د یو څو ځوانانو په نشت امکاناتو جوړ شوی فلم دی، نو زه هم زړه نا زړه وم، چې دغه فلم به څه ډول وي او آیا د محفل د خلکو به خوښ شي او که نه!
پروګرام لکه ټول افغاني پروګرامونه د خپل ټاکلي وخته یو دوه ساعته په ځنډ پیل شو، چې په دې کې پروګرام جوړونکی ګرم نه ؤ، مګر زموږ هېوادوال ګومان کوي چې فلم یا کوم هنري پروګرام ته تګ یاني جومات ته د خیرات د حلوا خوړولو لپاره تګ وي، نو ننني پروګرام هم لکه نور افغاني پروګرامونه لږ تر لږه دوساعته وځنډېده، چې د پروګرام د سمبالونکو تیار کړی پلان یې دړې وړې کړ او د وخت له ستونزو سره یې مخامخ کړ، خامخا هالنډیانو هم افغانانو ته که په سپکه نه کتل، نو په درنه یې هم نه ورته کتل! خو بیا هم  له ټولو دوستانو غوښتل کېدل چې خپلې خبرې لنډې وکړي، ځکه چې د پروګرام دوه ساعته خو هسې هم په نشت کې حساب ول، خو بیا هم دغه غونډې یو ډېر په زړه پورې پروګرام درلود.
ننني غونډه د پروګرام جوړونکي، د فلم د ډایرکټر، د فلم د لوبغاړو او یو شمېر نورو افغانانو په خبرو پیل شو، چې هر یوه یې په خپل وار سره لنډې خبرې وکړې، چې په دې برخه کې په نیدرلند کې د افغانستان سفیر هم خپلې څرګندونې وکړې او وروسته فلم په ډېره په زړه پورې بڼه پرانیستل شو، ځیني نومونه یاد شول، چې په هغوی کې د کریم تنویر په نامه یو شخص چې زما له څوکۍ لږ څه ها خوا مخې ته ناست ؤ، نو له خپل بکسه یې یوه ریتاړه راوایسته او مخ پر سټېج ور روان شو، په دې مهال د فلم یو شمېر لوبغاړي هم پر سټېج درېدلي ول او افغاني سفیر یې هم ورو‌غوښت، چې چا غږ وکړ «امو قیچي کجاست!»، نو څو تنو یو بل ته رنې رنې وکتل، خو یو بل بیا په منډه بیاتي وروړله. له یو ځانګړي ساز سره د سینما پرده هم په غوړېدو شوه او د فلم د پرانیستنې ریتاړه هم د سټېج پر سر د درېدلو ښاغلو لخوا پرې شوه، نو دغه مهال زما سترګې د سینما په پرده د فلم د پیل انځورونه په نښه کړل او له هغوی سره سم د فلم ساز مې هم تر غوږو شو، نو له ځانه سره مې وویل چې اوس نو فلم ته ګوره او ورته ځیر شه او وګوره چې ستا افغانو ځوانو ورونو د پردېسې په نړۍ کې څه ډول یو شهکار رامنځ ته کړی.
فلم به د یو نیم ساعت په شاوخوا کې ؤ، خو زه یې داسې مصروف ساتلی وم، چې د وخت په تېرېدو ګردسره پوهېدلی هم نه یم. د سینما په منځ کې ټول فلم ته ځیر ول، چې د یوې یا بلې پیښې په اړه به یو شمېر ځوانانو د فلم صحنه په شپېلکونو او چچکو بدرقه کړه، خو زما سترګې د فلم له پیښو سره داسې مصروفې وې، چې د ځوانانو دغه د فلم تشویق هم راته خوندور ایسېدا او پر زړه به مې د خوشالي څپه راغله او لیا به مې سترګې د فلم صحنو ته ځیر شوې.
زه د فلم په محتوی څه نه لیکم، ځکه چې د راتلونکو لیدونکو لپاره بیا د دغه فلم صحنې خسته کونه کېږي او ورته به په زړه پورې نه وي، نو زه هم هغه ټکي یادوم چې پر مایې اغېز پرېښود. فلم ډېر په لوړه کچه جوړ شوی دی او اداکاران یې په پښتو خبرې کولې او د فلم له ځینو برخو سره په انګرېزي او یا هم په هالنډي لمنلیکونه هم ورزیات شوي ول. فلم داسې جوړ شوی، چې له یوې پیښې تر بلې تا داسې مصروف ساتي، چې ته به په زړه کې تېروې چې بیا به څه کېږي او زه هم د فلم په اوږدو کې په همدې ډول بوخت ساتلی شوی وم، خو یو شی چې هغه زما له وسې وتلي ؤ، هغه دا ؤ، چې ما د بلې پیښې ضمني اټکل هم نشوی کولی، ځکه مې داسې سترګې په فلم کې خښې کړې وې، چې د پیښې جزئیات رانه تېر نه شي او کله به مې پیښو ته زړه هسې په رپېدا او درزا شو.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دغه فلم کې په هماغه ډول چې پيښې ډېرې په زړه پورې دي، نو د انځور په ښه راغلي صحنې هم زړه وړونکې دي او همدا ډول د فلم موسيقي او سندرې هم يو خاص اغېز پر انسان پرېږدي. د فلم صحنې په ډېره لوړه کچه د فلم په ښه راغلي دي او دپېښو تسلسل هم ډېر په زړه پورې دی. هغه احساسات چې په فلم کې ښودل شوي دي، نو انسان داسې يو هيجاني حالت ته رسوي، چې غواړې پخپله فلم ته ورودانګې او د فلم د ډلې برخه وګرځې! فلم په داسې سيمو کې اخيستل شوی، چې ډېرې خاصې طبيعي منظرې لري. د فلم لپاره ډېرې ښکولې او عصري ودانۍ ټاکل شوې دي او ترافيکي پيښې يې ډېرې زړه بوږنونکې دي.
تاسو به وايی، چې په دغه فلم کې څه دي، چې داسې يې په زړه پورې کړی دی او ته هم ترې متأثره شوی يې! نو درونو لوستونکو هغه څه چې پورته ياد شول، کېدی شي زما د سترګو انځور وي او د زړه احساس! خو د فلم موخه تر ټولو ډېره غوره راته ښکاره شوه. په دغه فلم کې سياست نه شته، مګر د دغه فلم محتوی د ټولنې ستونزې په ځانګړې ښه بيانوي او موخه داسې څرګندوي، لکه هغه مرغلره، چې پرته له آبه بې آبه ده او سپېره تيږه! نو دغه فلم هم د انسانيت، رېښتيا او ژمنتيا په جوهر او د جفا په ذهنيت راڅرخي او له سپکاوي د بشري ټولنې د ژغورنې يو پټ پيغام لري، د رېښتيا او ژمنتيا يو نا څرګند الهام پکې نغښتی، نو درنو هېوادوالو تاسو هم کولی شی، چې د دغه فلم په ليدو خپله هنري تنده ماته کړی.
فلم پای ته ورسېد، مګر ټول په دې تمه ول، چې نور به څه کېږي! خو فلم پای ته رسېدلی ؤ، د سينما ګروپونه هم ټول ولګېدل، ټپه تياره چې د فلم له آوازونو او انځورونو سره مله وه نوره نه وه او هر پلو د ګروپونو برېښنا وه چې ټول محفل يې روښانه کړی ؤ او د پروګرام بله برخه پيل شوه، خو خلک ليا هم د فلم تر اغېز لاندې چوپ ناست ول تا به ويل چې ټولو باندې کولتوري شوک راغلی وي او ټول پټه خوله ضعف شوي وي، مګر داسې نه ول، خو د فلم اغېز ډېر بياوړی ؤ او هر څوک يې دې ته اړ ايسته چې د ژوند د خوالو او ناخوالو په اړه په سوچونو کې لاهو شي.
د پروګرام په دغه برخه کې يو شمېر مېلمنو خبرې وکړې او د فلم اداکارانو، ډايرکتر او د پروګرام سمبالونکو ته د ګلو ګېډۍ ډالۍ شوې، او يو شمېر اداکارانو ته ستاينليکونه ورکړل شول او هر چا په خپل وار سره خپلې خبرې وکړې، خو يو شی ډېر په زړه پورې ؤ، چې هر ښاغلي غوښتل چې دغه ستج د خپلې ټولنې او يا هم خپلو هلو ځلو لپاره د ريکلام لپاره وکاروي. په هالنډ کې د مهاجرينو د ټولنو د فدراسيون په نامه هم يو څوک وغږېد او د خلکو خبره په سپينو سترګو يې د الکمار د شملي کولتوري ټولنه په ګنده ومنډله، د پارسيوانانو خبره (مکمل يک انجمنه مفت و جفت ده نيفک خود زد!)، چې ګواکې د الکمار ټولنه په هېڅ کې د فافون رسمي غړې شوه، نو د دغه ښاغلی دغه سپينسترګي ډېره جالبه وه، نو ځکه مې ياده کړه.
بل ښاغلي کريم تنوير ؤ، هغه هم د الکمار د شملي ټولنې دغه ننني پروګرام ځان ته ځانګړی کړی ؤ، د پروګرام په پيل کې د يو قطار مخې ته درېدلی ؤ او ټولو ته يې ويل چې «اين جای ها برای مهمان های مقدم او که مهم است و برای اعضای سفارت و ديگر مهمان ها ريزرف شده است»، خو په ټکټونو کې د هر چا د ځای شمېره او د څوکيو ليکه ليکل شوې وه خو خلک ډېطر نه ول او ميدان دغه ښاغلي ته شغالي شوی ؤ او کله چې سفير له خپلې مېرمنې سره په مختنې کتار کې کېناست نو دغه ښاغلی تنوير يې نېغ تر څنګ کېناست او داسې يې ښودله چې ګواکې د دغه پروګرام راوي، معتمد او تحويلدار دی وي او بيا يې خپل لوستې او نا لوستی د هنرمند او عالم په نامه ستېج ته هم وروغوښتل.
دغه جناب يوه مېرمن چې سبا نومېده، نو هغې ته يې هم هسې د مور لقب ورکړ او ستېج ته يې وروغوښتله، خو په زړه پورې دا وه چې دغه مېرمن يې د پروګرام په پای کې په نيمه شپه کې تش لاس هسې په رڼه ميدان پرېښودله، چې سرګردانه هخوا دېخوا تاوېده، د ځينو خبره «دستو پاچه شده بود!» مګر بيا هم يو افغان دغه مېرمنې ته د درنښت په نښه د خپل لاس ګل ډالۍ کړ او دوو نورو افغانانو په خپل موټر کې تر کوره ورسوله! نو د کلي د ملک او که د پروګرام د بې خايه اوسقال ښاغلي تنوير په اړه هماغه متل راپه ياد شو، چې «جای بودو جولا نه!»
د پروګرام د ورستی برخې لپاره خلک بلې خونې ته وغوښتل شول، چې هم افغاني موسيقي وواري او هم يوه مړۍ ډوډۍ وخوري. څوک په بېړه ولاړل چې له خپلو اولادو سره ډوډۍ وخوري، خو اکثريت خلک د فلم په اړه څرګندونې کولې، خوشالي يې کوله، د فلم له ستوريو سره يې يادګاري عکسونه اخيستل، خو د محفل دوه سندرغاړي يې بېخي له هېره ايستلي ول، چې سندرغاړو هم د خپل ځان او خپلو ملګرو د تشويق لپاره څو ځله په خلکو غږ وکړ، چې لاسونه ورته وپړکوي، مګر د ټولو ذهن د افغاني فلم له محتوی سره مغشوش وه او خلک هم په دوو ډلو وېشل شوي ول، چې يو شمېر يې موسيقي ته غوږ نيولی ؤ او نورو د فلم په اړه خپل بنداړونه جوړ کړي ول او د فلم له اداکارانو سره يې د تليفون شمېرې او برېښناپاڼو پتې تبادله کولې. پروګرام د ځوانانو د اتڼ به تر سره کېدو پای ته ورسېد، مېلمانه هم ټول ورو ورو بيرته ولاړل، سيمه له خلکو خالي شوه او زه هم د فلم له سوچونو سره خپل کور ته ستون شوم.

---



افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له نېکه مرغه مې په یوه خبرپانه کې ولوستل، چې د«غلطه لاره» فلم په جرمني کې هم په لاندې پته د نوامبر په پنځویشتمه نېټه ښودل کېږي:

Premiere Germany
17:30 Freitag 25-11-2011,
Adresse: Filmclub e. V Kino
Hahnenstraße 6
50667 Köln
http://www.youtube.com/watch?v=HufN_2jxfho




مننه


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ